DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
۷۸۰
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش
لسم کال - دویمه دوره، ۷۸۰مه گڼه، پر له پسې ۱۸۴۷ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د غوايي ۲۸ مه - د سې شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الثاني ٤ مه ۲۰۱۰ د مې ۱۸ مه

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

دوسرباز ایتالیایی درافغانستان کشته شدند

وزارت خارجهٔ ایتالیا اعلام کرده است که دو سرباز ایتالیایی دیروز در شمال غرب افغانستان هنگامی کشته شده اند که بمبی در مسیر وسیلهٔ نقلیهٔ نظامی آنها منفجر شد. به گزارش دویچه وله، دو سرباز دیگر در این حادثه زخمی شده اند. گفته می شود که این چهار تن در نزدیک به شهر هرات مورد اصابت بم قرارگرفته اند. قابل یادآوری است که اکثر سربازان ایتالیایی در ولایت هرات مستقر می باشند.

د کوچیانو مسئله او د مطبوعاتو ډنډوري

له ۱۳۸۸ کال څخه را په دې خواد وردګو ولایت په بهسودو کې د کوچیانو او میشتو هزاره ګانو ترمنځ ځینې شخړې رامنځته شوې، چې له امله یې د دې دواړو قومونو ترمنځ ځینې جګړې او شخړې هم وشوې چې سیاسي کسانو خدای شته ښه ګټه ترې پورته کړه او ښې مزې یې پکې وکړې، محقق خو بېخي اعتصاب وکړ او د ده په وینا د څو ورځو لپاره یې ډوډۍ ونه خوړله او ډېر پراخ لاریونونه یې پر لاره واچول او د دولت او ولسي جرګې په ګډون ګڼ کسان د هزاره ګانو د حقوقو غوښتونکي شول، کمېسیونونه وټاکل شول او هسې بېځایه یوه سیاسي پروژه پیل شوه. خو پایله یې بیا هم هېڅ وه، ځکه د دې ترڅنګ چې هزاره ګانو ډېر د دې ځای ځانونه مالکان بلل او هغه د چا خبره د ګیدړې قباله یې د خپل ځان او خپل نوم ګڼله، خو بیا هم یوازې د کوچیانو پر ستوني پښه ورکېښودل شوه او دوی ته وویل شول، چې نور باید څه ونه وایي. له دې څخه دا دی بیا یو کال تېرشو او د دغو دواړو قومونو ترمنځ جګړه پیل شوه، چې دواړو خواوو یو پر بل باندې د دې تور ولګاوه، چې ګواکې د یو بل پر کورونو یې بریدونه کړي دي. کوچیان چې له سیاسي پلوه لږ څه کمزوري دي، هېڅ یوې رسنۍ یې په رښتوني ډول غږ پورته نه کړ، خو د هزارګانو پیر محقق سمدستي کنفرانس را وغوښت او په کنفرانس کې کوچیان په څلور مذهبه کافر کړل او ځانونه یې سپین چرګان معرفي کړل. ټول ټلویزیونونه د محقق په خبرو باندې ګرم وو. خو یوازې ځینو محدودو رسینو د ملاتره خپل غږ هم له ځانه سره لاره، چې هغه یوازې دعا او د دولت له خوا د ژر ګام پورته کولو غوښتنه یې کوله او بس. د دې تر څنګ چې پخواني رهبران له خپلو موخو څخه پرته بل څه دوی ته د زیات ارزښت وړ نه دي، دلته یو ځل بیا محقق را ببر شو او ولسمشر ته یې ګوتڅنډنه وکړه، چې که چېرې د دوی خبره ونه مني، نو بیا خو پوهېږي چې دوی څه

۳مخ

ادامهٔ جنگ در بغلان و مشکل بیجا شده گان

جنگ شدید توام با تلفات در ولایت بغلان جریان دارد و صدها خانواده از اثر آن، بیجا شده و به حالت نگران کننده یی به سر می برند. مسوولان امنیتی می گویند که این درگیری، دنبالهٔ عملیات موسوم به "توحید یک" است که از پنج روز بدینسو با شرکت اردو، پولیس و امنیت ملی و همکاری نیروهای آیساف، در منطقهٔ دندغوری حومهٔ مرکز بغلان و ولسوالی دهنهٔ غوری، به راه افتیده است.

لعل محمد احمدزی سخنگوی پولیس زون ۳۰۳ پامیر در شمال دیروز گفت که در برخورد شب گذشته، ۴ طالب مسلح کشته شدند. او افزود که در این درگیری، دو طالب دیگر با دو پولیس زخم برداشته اند.

احمدزی می گوید که خودش هم اکنون در ساحهٔ دندغوری قرار دارد و درگیری به شدت ادامه دارد. از سوی دیگر، تورنجنرال مرادعلی مراد قوماندان قول اردوی ۲۰۹ شاهین در شمال می گوید که از آغاز عملیات تا حال ۱۱ مخالف مسلح دولت در دندغوری کشته و ده ها تن شان، مجروح گردیده اند.

مراد علاوه کرد که در جریان عملیات، ۲ تن از سربازان اردوی ملی نیز جان های شان را از دست داده و دو سرباز جراحت برداشته اند. به گفتهٔ وی، در بین طالبان، اتباع عرب و پاکستانی نیز، شامل بوده و سه تن به شمول یک پاکستانی، از سوی نیروهای امنیتی، دستگیر شده است. اما ذبیح الله مجاهد یک سخنگوی طالبان گفت که افراد آنها شب گذشته، ۱۳ تن از نیروهای دولتی را در دندغوری کشته و مجروح ساخته اند. وی می گوید که این درگیری، دنبالهٔ عملیات عمومی موسوم به "الفتح" است که اخیرا از سوی آنها آغاز گردیده است. اگر چه مسوولان امنیتی می گویند که عملیات دقیقا راه اندازی شده و به مردم ملکی تلفات نرسیده، اما جنگ باعث متواری شدن صدها خانواده شده است. به گزارش خبرگزاری روز، اکثر این خانواده ها در تپهٔ فرحت شهر پلخمری" مرکز بغلان" و برخی دیگر در منازل دوستان و اقارب خود، به سر می برند. آنها در حالی از چادرها خیمه برافراشته اند که باران هم می بارد. گل پری که با سه طفل و شوهرش از منطقهٔ احمدزی متواری و در زیر یکی از این خیمه ها به سر می برد، گفت: "دو روز می شد که اطفالم نان نخورده بودند، شام از تپه پایین شدم و در خانه ها تک تک زدم و مردم برایم نان خشک و یک نوشکهٔ "آب " دادند." متواری شده گان می گویند که روز گذشته منشی عبدالمجید والی بغلان از حالت ناگوار آنها در تپهٔ فرحت دیدن کرده و وعده سپرد که برای آنها از سوی شاروالی و هلال احمر، کمک های لازم صورت می گیرد. اما گل پری می گوید که اگر برای آنها کمک نشود و زمینهٔ برگشت شان مساعد نگردد، امکان دارد که اطفال شان از اثر گرسنگی، مریضی و بی سرپناهی تلف شوند. ص۳

د اروزګان ولایت د چنارتو ولسوالۍ لاره له کلونو راهیسې بنده ده

د اروزګان د چنار ولسوالۍ اوسېدونکي وایي، چې د ولایت له مرکز سره یې لاره له تېرو پنځو کلونو راهیسې بنده ده، چې له امله یې دوی له زیاتو ستونزو سره مخ دي.

دغه څرګندونې د یادې شوې ولسوالۍ قومي مشرانو د غوايي پر ۲۳مه، د ولایت په مرکز ترینکوټ ښار کې سرپرست والي حاجي خدای رحیم خان ته د خبرو پر مهال وکړې.

د چنارتو ولسوالۍ قومي مشرانو له والي څخه وغوښتل، د دوی لاره چې د ولایت له مرکز ترینکوټ سره له پنځو کلونو راپه دې خوا بنده ده، دپرانېستلو هلې ځلې وکړي.

د حاجي خان اکا په نامه یوه قومي مشر وویل، چې ولسوالۍ ته یې خوراکي توکي او درمل په قاچاقي ډول راوړل کېږي.

هغه زیاته کړه: ((وسلوال طالبان چې د لارې کنټرول په لاس کې لري، موټر دروي او او خوراکي توکي ترې ښکته کوي.))

خان په نامه یوه بل قومي مشر پژواک ته وویل

۳مخ

د نوموړي په وینا، د لارې د بندېدو له امله یې په ولسوالۍ کې د خوراکي توکو بیې ډېرې لوړې شوې دي.

عبدالرازق

بازگشایی چهار باب مکتب در ولایت بادغیس

وزارت معارف کشور دیروز از بازگشایی ۴ باب مکتب در ولایت بادغیس که قبلا مسدود شده بود، البته به کمک اهالی منطقه دو باره به روی شاگردان آن، خبر داد . محمد آصف ننگ رییس نشرات و اطلاعات وزارت معارف ضمن ابراز این مطلب گفت که به یاری خداوند و سعی و تلاش اهالی شریف منطقه، اینک چهار باب مکتب مسدود شدهٔ دیگر نیز، دوباره به روی اولاد وطن بازگشایی گردید.

وی گفت که این مکاتب به نام های مکتب خم توت، یوکند، چغچال و مکتب مولوی اختر می باشد. ص۳

وزیر دفاع آلمان:

ایجاد دموکراسی در افغانستان مطابق معیارهای غرب رویایی بیش نیست

برای ماموریت و حضور نیروهای خود در افغانستان باید اهدافی واقع بینانه ترسیم کنیم

وزیر دفاع آلمان بار دیگر از تقویت نیروهای جنگی این کشور در افغانستان خبر داد.

کارل تئودور تسوگوتنبرگ، وزیر دفاع آلمان ضمن اشاره به تقویت و افزایش قوای نظامی کشورش در افغانستان گفت: با کمک امریکا از ماه جون ما حدود ۵۰ هلیکوپتر در اختیار خواهیم داشت، این در حالی است که در حال حاضر این تعداد بالغ بر شش تا هشت هلیکوپتر است.

به گزارش خبرگزاری آلمان، وزیر دفاع آلمان بار دیگر تاکید کرد که باید برای ماموریت و حضور نیروهای خود در افغانستان اهدافی واقع بینانه ترسیم کنیم.

وزیر دفاع آلمان به نشریهٔ بیلدآم زونتاگ گفت: اهداف واقع بینانهٔ ما عبارت است، از اینکه ما بتوانیم، در افغانستان ثبات ایجاد کنیم ص۳



طرح ها برای بیرون رفت از معضلهٔ کنونی

۲

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

پارلماني ټاکنې او د بې امنۍ زوروري څپې

په هېواد کې امنيتي ګواښونه او تاوتريخوالی د هرې ورځې په تېر بدو سره مخ په زياتېدو دی. دغه لړۍ لکه څرنګه چې تمه يې کېدله، د پسرلي د شپو ورځو په رارسېدو سره نوره هم تونده او خونړۍ شوې ده.

وړمه ورځ وسلوالو کسانو د کونړ د علماوو شورا رييس وواژه او همدارنګه په ننګرهار ولايت کې د پارلمان پر يو وکيل باندې برید وشو، چې په ترڅ کې يې د ده دوه تنه ساتونکي ټپيان شول. له دې نه اخوا، د هېواد په نورو سيمو کې هم اوضاع ښه نه بر ېښي. مخالفانو اوس پر سوېلي ولايتونو سر بېره، په څو شمالي ولايتونو کې هم خپل شتون کره کړی او په همهاله توګه خپلو بمي او وسلوالو بريدونو ته دوام ورکوي، د ملي اردو، پوليسو او بهرنيو سرتېرو کاروانونه او اډې خپل هدف ګرځوي. خو په دې ټولو پېښو کې، جالبه دا ده، چې د ناامنيو او وسلوالو بريدونو حملې اوس د هېوادهغو سيمو ته، چې تراوسه پورې په کلي توګه امن سيمې بلل کېدلې، هم غځېدلي، لکه څرنګه، چې د طالبانو پر ضد د ټلوالې اصلي مرکز پنجشير ولايت و چې تر دمګړۍ د تاوتريخوالي هېڅ نښه په کې نه وه ترسترګو شوې، په تېره اونۍ کې د څو پرله پسې بمي بريدونو شاهد و. همدا راز ويل کېږي، چې په بدخشان ولايت کې هم، طالبانو په پراخه کچه نفوذ کړی او اوس هلته خپل فعاليتونه سمبالوي.

دا په داسې حال کې ده، چې د پارلماني ټاکنو وخت هم په رانژدې کېدو کې دی. د باوري سرچينو په حواله، وسلوال مخالفان هڅه کوي، چې د ناامنيو او تاوتريخوالو دغه لړۍ نوره هم پسې اوږده او ټول هېواد ته يې وغځوي او په دې توګه د ټاکنو د ترسره کېدو بهير له ګواښ او ستونزو سره مخ کړي. دا په داسې حال کې ده، چې په هېواد کې د نويو امريکايي سرتېرو په ځای پر ځای کېدنو او پر يو شمېر سيمو د پوځي عملياتونو په ترسره کېدو تمه کېدله، د امن او ټيکاو په وضع کې مثبت بدلونونه رامنځته شي. په دې وروستيو کې يو زيات شمېر امريکايي او بهرني سرتېرې په ميدان وردګو، لوګر، غزني، هلمند، او کندهار ولايتونو کې چېرې چې د هېواد ترټولو ناامنې سيمې بلل کېږي، ځای پر ځای شوي دي. په سيمه کې د تازه سرتېرو له استقرار څخه مهم هدف د راتلونکو پارلماني ټاکنو د امنيت خوندیتوب دی. خو داسې ښکاري چې له دې ټولو لومړ نيو هڅو سره سره د هېواد په امنيتي وضعه نه يوازې د پام وړ مثبت بدلون نه تر سترګو کېږي، بلکې د هرې ورځې په تېر بدو او د ټاکنو وخت په نژدې کېدو سره، امنيتي وضعه کې نوره هم خړه پړه او د خرابۍ پر لور روانه ده. په تېرو دوو درېيو ورځو کې د خوست، غزني، زابل، هلمند او وردګو ولايتونو د امنيتي اوضاعو ارزونه، په دې اړه د قضاوت روڼ انځور د سړي مخې ته ږدي. له دې نه اخوا، دغې لړۍ د هېواد شمالي سيمې هم له ستونزو سره مخ کړي، تېره اونۍ د هېواد يو شمېر شمالي ولايتونه لکه کندوز، فارياب، بغلان د دولت او وسلوالو مخالفانو ترمنځ د سختو نښتو شاهد وو.

په هر صورت، داسې ښکاري، چې د پارلماني ټاکنو وخت په نژدې کېدو سره، وسلوال مخالفان هڅه کوي، چې دغه لړۍ له ستونزو سره مخ کړي. وسلوالو مخالفانو لا مخکې ويلي وو، چې ټاکنې نه يوازې تحريموي، بلکې له ستونزو سره يې مخ کوي. بل پلو، د طالبانو نوي خوځښتونه او د الفتح په نامه د نويو پوځي عمليات پيل د دې څرګندويي کوي، چې هغوی غواړي، د امريکايانو نوې پوځي ستراتيژي چې بنسټيز ټکی يې په افغانستان کې د سرتېرو زياتوالی او له دې لارې په هېواد کې امن راوستل دي، سبوتاژ او له خنډ سره مخ کړي.

پردې بنسټ، ويلای شو، که دولتي چارواکي سر له اوسه، د ټاکنو د امن د خوندیتوب په موخه کاري ګامونه وانه خلي، د روانې امنيتي وضعې په پام سره، د ټاکنو د ترسره کېدو شونتيا ورځ تر بلې له ننګونو سره مخ کېږي، کېدای شي د ټاکنو د وخت پر راسېدو سره حالات دومره له کنټروله ووځي، چې ان په ښارونو کې چې اوس په نسبي ډول له امنيت څخه برخمن دي، هم د ټاکنو د ترسره کېدو لپاره ستونزې وي. دغه مسئله کولای شي، د راتلونکو پارلماني ټاکنو مشروعيت او شفافيت هم د تېر ولسمشريزو ټاکنو په شان، کمرنګه کړي.

طرح ها برای بیرون رفت از معضلهٔ کنونی

نویسنده: عبدالصمد روشن

قسمت : اول



مقدمه :

برای بیرون رفت از حالت ناگوار و نگران کنندهٔ سیاسی، اقتصادی،اجتماعی، نظامی، امنیتی، بیکاری، فساد اداری وغیره چه باید کرد، تا صلح و امنیت باثبات در سرتاسر کشور به وجود آید و در نتیجهٔ این صلح، نگرانی های موجود از بین رفته و مردم کشور ما صاحب زنده گی آبرومندانه و مرفه شوند و در تمام عرصه ها، از احتیاج بیگانه گان رهایی یابند و در نهایت، افغانستان، به خصوص از لحاظ اقتصادی و امنیتی خودکفا شود. در این موارد، طرح های این جانب چنین است؛ خدا(ج)کند که با ارایهٔ چنین طرح هایی، در کشورعزیز ما افغانستان، به اسرع وقت اصلاحات اساسی و بنیادی در تمام ابعاد زنده گی این ملت مسلمان، مجاهد، متدین، مبارز، رنجدیده، فداکار و قهرمان به میان آید، در زمینه توجهٔ رییس جمهور منتخب، کابینهٔ منتخب، شورای ملی افغانستان و سازمان ملل متحد راخواهانم.

طرح اول– تنویر اذهان عامه:

- طوری که می دانید، اکثراً موضوعات و مسایل دینی، مذهبی، سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، امنیتی، حوادث و واقعات بزرگ و دلخراش، اختراعات، انکشافات و پیشرفت های جهان از طریق مطبوعات جهت تنویر اذهان مردم و آگاهی جهانیان به اسرع وقت به نشر رسیده و می رسد. لذا به خاطر تنویراذهان عامهٔ مردم شریف و متدین افغانستان، باید مطبوعات در خدمت مردم سراسر کشور قرار گیرد؛ یعنی تمام رسانه های چاپی دولتی و غیردولتی (آزاد) چاپ مرکز و ولایات کشور در ظرف (۲۴ – ۴۸) ساعت، از طریق ترانسپورت زمینی و هوایی به سراسر کشور رسانده و توزیع شود، تا مردم رنجدیدهٔ کشور، از تمام جریانات و پیامدها اعم از انکشافات، اختراعات، خواسته های ملت افغانستان و جهانیان، آگاهی از قانون اساسی و قوانین نافذهٔ کشور در اسرع وقت از اثر مطالعهٔ رسانه ها آگاهی حاصل نموده و طور آگاهانه برای وحدت ملی، بازسازی و نوسازی کشور شان با هم بسیج شوند و تمام مشکلات کشور شان را به اساس مشوره های علمی، مسلکی، تخصصی با استفاده از تجارب کشور خود و کشورهای جهان حل نمایند. فعالیت های رادیوها و تلویزیون های دولتی و غیردولتی طوری توسعه و انکشاف بیابد که ساحهٔ پوشش شان تمام نقاط کشور را در برگیرد.

- به منظور ایجاد تفاهم بیشتر و درک درست و متقابل حکومت و رسانه ها و به هدف یافتن راه حل مشکلات موجود فراراه رسانه ها و به خاطر هموار شدن بستر مطمین پیاده شدن قانون رسانه ها و ارتقای سطح موثریت رسانه های همگانی در انجام رسالت ملی و میهنی سیمینار دو روزه یی به ابتکار وزارت اطلاعات و فرهنگ و با اشتراک نزدیک به ۷۰۰ تن از مسوولان حکومت، رسانه های آزاد مرکز و ولایت ها، شخصیت های علمی و اندیشه مند و ژورنالیستان تحت عنوان "سیمینارسراسری رسانه ها، چالش ها و راهکارها" به تاریخ۱۷-۱۸حمل۱۳۸۹ درهوتل انترکانتیننتل دایر گردید. در ختم کار، دو روزهٔ سیمینار، قطعنامهٔ ۱۵ ماده یی به تصویب رسید که در مادهٔ ۱۰ آن چنین آمده است: (دولت، رسانه های چاپی را مورد حمایت مالی قرارداده سعی نماید، تا فرهنگ روزنامه خوانی در کشورگسترش یابد) در مادهٔ ۱۳ این قطعنامه، چنین نگاشته شده که: " ایجاد مرکز واحد رسانه یی، با سهولت های لازم در مرکز و ولایت ها از جانب حکومت غرض دسترسی به موقع رسانه های محلی و ملی به معلومات و اطلاعات."

- نویسنده به خاطر تحقق مواد این قطعنامه، خصوصا "فرهنگ روزنامه خوانی" چنین نظر دارد که اولاً باید روزنامه ها باید به دسترس مردم قرار گیرد، تا (فرهنگ روزنامه خوانی به میان آید". بنابر ان، به خاطر انسجام سیستم توزیع روزنامه ها، جراید و مجلات دولتی و آزاد پیشنهاد می نماید که: از طرف وزارت محترم اطلاعات و فرهنگ، سیمیناری دایر گردد که در آن، مسوولان محترم مقام های عالی رتبهٔ حکومت، نماینده گان محترم شورای ملی، مسوولان محترم رسانه های دولتی و غیردولتی مرکز و ولایات، نویسنده گان و ژورنالیستان با تجربه و سابقه دار، بنیادهای مدنی فرهنگی صلح و دموکراسی، کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان، نماینده گی ملل متحد (یونیما)، صاحب نظران بخش های ملکی و نظامی، نماینده گان اکادمی علوم، نماینده گان پوهنتون های مرکز و ولایات وغیره اشتراک نمایند، تا در این سیمینار، مشکلات رساندن رسانه های چاپی به سراسر کشور (پایتخت، ولایات، ولسوالی ها، شهرها، نواحی شهری، دهات و قریه های بزرگ، پوهنتون های ملکی و نظامی، مراکزنظامی، قطعات و جزوتام های قوای مسلح، شرکت های امنیتی خصوصی داخلی و خارجی، مکاتب، مدارس، ارگان ها و ادارات دولتی، سفارتخانه ها، نماینده گی های سیاسی، احزاب سیاسی، سازمان های اجتماعی، شوری های محلی، موسسات و انجوهای داخلی و خارجی، فابریکه ها، شرکت ها، کمپ های مهاجران وغیره" بررسی و حل گردد. همچنان مشکلات شنیدن رادیوها و دیدن تلویزیون ها در اطراف و نقاط دوردست کشور عزیز نیز، حل شود. باید خاطر نشان نمود که روزنامه های ملی انیس، هیواد، اصلاح، جراید و مجلات چاپ مرکز الی ماه ثور سال ۱۳۷۱ از طریق ریاست پست وزارت محترم مخابرات به تمام ولایات کشور رسانده می شد و بعداً به ارگان های مربوط، مکاتب، مشترکین و غرفه های فروش اخبار، توزیع می گردید؛ متاسفانه که در اثرجنگ های تنظیمی کشور، این پروسه از بین رفته است. امید است، پروسهٔ مذکور احیای مجدد شود. در صورت احیای مجدد این پروسه، باید تیراژ رسانه های چاپی به کمیت بیشتر و قابل ملاحظه بالا برود. با بالارفتن تیراژ رسانه های چاپی، عاید وزارت محترم اطلاعات و فرهنگ و ارگان های رسانه های چاپی غیردولتی نیز، بالا می رود و از طرف دیگر، برای یک تعداد از اتباع بیکار کشور، زمینهٔ کار مساعد می گردد. باید گفت که در پایتخت و مراکز ولایات کشورعزیزما، به صدها عنوان روزنامه، جراید، مجلات، پوسترها و بلوتن های دولتی و غیردولتی (آزاد) برای تنویر اذهان عامه چاپ می گردد. متاسفانه همین رسانه های چاپی در وقت معین آن به سراسر کشورنمی رسد؛ لذا طور همآهنگ باید این رسانه های چاپی در زمان معین آن یعنی در ظرف (۲۴-۴۸) ساعت جهت آگاهی مردم سراسر کشور، از طریق ترانسپورت های زمینی و هوایی، تنظیم و رسانده شود. در نتیجه، تنویر اذهان عامه؛ روحیهٔ برادری، برابری، قانون پذیری، تطبیق حدودشرعی، همآهنگی در ارگان ها، وحدت ملی و امنیت مطمین در سرتاسر کشور (خانهٔ بزرگ و مشترک افغان ها) به اسرع وقت به میان خواهد آمد و در تمام عرصه ها، اعم از سیاسی، اقتصادی، اجتماعی، امنیتی وغیره مشکلات میهن عزیز ما افغانستان حل گردیده و از احتیاج بیگانه گان رهایی خواهیم یافت و در نهایت، با داشتن آگاهی عامه، توسعه و انکشاف مطبوعات سرتاسری در کشور، استفاده از کمپیوتر، انترنت، ساینس و تخنیک عالی قرن ۲۱، دارای کشورمترقی و خودکفا خواهیم شد.

–باید خاطر نشان نمود که: منسوبان و کارکنان رسانه های همگانی و مطبوعات، یعنی کارکنان رادیوها، تلویزیون ها و رسانه های چاپی در شرایط بسیارخطیر جنگی و وضع نامساعد جوی کشور، وظایف محولهٔ خویش را به حسن صورت و امانتداری بادرنظرداشت اخلاق ژورنالیستیکی در وقت معین آن، به پیش برده و می برند که در این راه، تلفات جانی، شکنجه های فزیکی زندان ها وغیره را در حین اجرای وظایف مقدس شان نیز، متحمل شده اند؛ مگر زوایای تاریک مسایل ملی و بین المللی و حقایق را برای تنویر اذهان عامه روشن ساخته اند؛ متاسفانه که در نظام های گذشته، هیچ توجهی برای بهبود زنده گی شان صورت نگرفته است. لهذا امید است، به (زنده گی اهل قلم و مطبوعات و کارکنان رسانه های همگانی) از طرف دولت منتخب توجهٔ اساسی صورت گیرد، تا با خاطر آرام وظایف محولهٔ شان را طوری که اصول ژورنالیزم ایجاب می نماید، به پیش برده و اجراآت نمایند.

طرح دوم - معضلات سرحدات افغانستان، با کشورهای همسایه به کمک ملل متحد باید حل شود

ازنقطهٔ نظرعلم جغرافیا: سرحد عبارت از خطی است که یک سرزمین و یا محیط اجتماعی را از سرزمین و یا محیط اجتماعی دیگر، از لحاظ خصوصیات، فعالیت های اجتماعی، اقتصادی، سیاسی، کلتوری، مذهبی، نژادی و دیگر مشخصات بشری جدا سازد. افغانستان کشوری است که از چهارطرف، توسط خشکه محصور گردیده است.

—زمانی که احمدشاه بابا درانی امور مملکت را در سال های (۱۷۴۷–۱۷۷۳م) به دست داشت، امپراتوری بزرگی را بنا نهاد. این امپراتوری از طرف شمال تا کنار دریای آموء از طرف غرب به ایران، از طرف شرق و

ص۳

نه چېرې تللی، نه راغلی

استاد نجیب منلی

د افغانستان د سیاست د وروستيو میاشتو تر ټولو نامطمینه خبره، امریکا ته د ولسمشر اوباما په بلنه د ښاغلي کرزي سفر و. د سپینې ماڼۍ د شرقي خونې پر سټېج د دواړو ولسمشرانو ګډ کنفرانس، له افغاني هیأت څخه د امریکا د حکومت تود هرکلي، د ښاغلي کرزي د سولې له هڅو د اوباما ملاتړ، د دواړو ولسمشرانو له خوا د افغانستان او امریکا یو بل ته پر ژمنتیا ټینګار، د پاکستان په اړه د هیلري کلینټن څرګندونو او د دغه سفر نورو اړخونو، هغه ګواښونه د سیاست له لوحو پاک کړل، چې یوه میاشت مخکې د امریکا چارواکو د کرزي د سفر د لغوه کولو په اړه کول. د پسرلي اسمان ته ورته، د دواړو هېوادونو، بدلېدونکې اړیکې د افغانستان د سیاسي وضعیت د پېچلتیا څرګندویي کوي.

ښاغلی کرزی که له نړیوالو مشرانو سره هر ډول اړیکي ولري، که هر څومره یو له بل سره ترخه شي، بیا هم د واقعي سیاست غوښتنه دا ده، چې سره به لاس په لاس پر مخ درومي. که د دغو اړیکو د توضیح لپاره یوه ظاهراً نا مناسبه تشبیه وکاروو، د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه داسې دي، لکه دوه تنه چې هر یو په یوه پښه ګوډ وي او امسا و نه لري. که دغه دواړه کسان غواړي، چې که په ستونزه هم وي، څو قدمه واخلي مجبور دي، چې یو پر بل تکیه وکړي، یانې هر یو باید خپل ملګری د خپلو اوږو بار کړي، که نه دواړه لوېږي.

تر بې ساري لفظي مشاجرې وروسته، ځینو امریکایي چارواکو وانګېرله چې کولای شي، له ښاغلي کرزي سره د قوت له دریځه خبرې وکړي، خو واقعیتونو پرې ډېر ژر دا ومنله، چې تر یو ځواکمن دښمن، یو بې ځواکه ملګری کېدای شي، چې ډېر مجبوریتونه ایجاد کړي.

د افغانستان د کورتیو ستونزو په عملي ډګر کې امریکا ته د افغان ولسمشر سفر کوم خاص اهمیت نه لري. افغان حکومت د مخالفانو له ګواښ سره مخ دی، خو د ترهګرو عملیاتو له ډېرېدو سره سره دا ګواښ دومره نه دی، چې د حکومت موجودیت او حتا د حکومتي اداري فعالیت تر پوښتنې لاندې راولي. همدا راز افغان حکومت لا تراوسه پر دې نه دی بریالی شوی، چې له خپلو نړیوالو ملاتړو سره د باور پر بنسټ ولاړ مناسبات جوړ کړي، خو لکه د امریکا سفر چې ثابته کړه، دواړه لوري، که و غواړي او که و نه غواړي، پرته له دې بله چاره نه لري، چې گوزاره سره وکړي. افغان

۳مخ

چالش های فراروی دولت ائتلافی ...

دلیل بحران اقتصادی هستند.

از سوی دیگر، این دو حزب، اختلافات اساسی در نگاه به مسایل داخلی و خارجی دارند؛ به نحوی که حزب لیبرال دموکرات، به گرایش شدید به اتحادیهٔ اروپا و دور شدن از واشنگتن مشهور است، اما حزب محافظه کار به رهبری کامرون، عمیقا در مورد همکاری با اروپا تردید دارد. (به طوری که از وی به عنوان سرسخت ترین سیاستمدار بریتانیایی در قبال سیاست همگرایی اتحادیهٔ اروپا یاد می شود).

در همین حال، سرسختی و بی اعتنایی کامرون نسبت به سیاست همگرایی در اتحادیهٔ اروپا در حالی مطرح شده است که اتحادیهٔ اروپا با مشکلات اقتصادی و مالی عدیده یی دست و پنجه نرم می کند و در این وضعیت، به شدت نیازمند مشارکت اقتصادی دولت های قدرتمند اروپایی در جهت جلوگیری از سرایت بحران اقتصادی یونان به دیگر کشورهاست.

به گزارش خبرگزاری آوا، در کنار مسایل سیاسی، احزاب ایتلافی در دولت آینده در مورد مسایل اقتصادی از جمله در زمینهٔ اصلاح نظام مالیات ها نیز، با هم اختلاف دارند که این موارد، از جملهٔ مهمترین چالش های فراروی دولت ایتلافی در بریتانیا محسوب می شود و به همین دلایل کارشناسان، این دولت ایتلافی را شکننده ارزیابی می کنند.

علاوه بر مسایل اختلافی موجود بین احزاب ایتلافی دولت بریتانیا، نظرسنجی های مختلف حکایت از آن دارد که افکار عمومی این کشور نیز، به تشکیل دولت ایتلافی نگاه بدی دارند.

حال باید منتظر ماند و دید که این دولت ایتلافی ۵ سال دوام خواهد آورد؟

تلاش زنان به سهمگیری در ...

با طالبان، حقوق شان قربانی گردد.

به گزارش شبکهٔ دویچه وله، این درحالی است که فعالان حقوق زن، و نهادهای مدنی، بارها از دولت افغانستان انتقاد کرده، گفته اند که دولت برای ارتقا و رشد زنان، تعهد سیاسی ندارد.

بازگشایی چهار باب مکتب ...

به گفتهٔ ننگ با بازگشایی این مکاتب، تعداد مکتب های بازگشایی شده جمعاً به ۲۴۹ باب می رسد.

ننگ به نماینده گی از وزارت معارف کشور گفت: "وزارت افتخار دارد که به اثر تشریک مساعی علمای کرام، شخصیت ها و متنفذان قومی و ذیدخل در قضیه، مسوولان معارف و پشتیبانی اهالی ولسوالی بالامرغاب ولایت بادغیس این مکاتب بسته مجددا بازگشایی شد."

همچنان وزارت معارف طی اعلامیه یی، از تمامی شخصیت های علمی و فرهنگی، مشران و متنفذان با رسوخ قومی و محلی و علمای کرام با کمال احترام می طلبد، تا در راه اعتلای نظام معارف مطابق به ارشادات دین مبین اسلام جد و جهد خستگی نا پذیر نمایند .

هکذا رهبری وزارت معارف از عموم هموطنان عزیز و علم پرور خو در سراسر کشور متوقع است، تا با پیروی از حدیث متبرکهٔ نبی اکرم حضرت محمد مصطفی(صلی الله علیه وسلم): "طلب علم بالای هر مرد و زن مسلمان فرض است" دختران و پسران خود را بدون هر گونه تبعیض به کسب علم و سواد تشویق و ترغیب نمایند.

به گزارش وخت، این در حالی است که وزارت معارف کشور سال جدید تعلیمی ۱۳۸۹ را سال ارتقای کیفیت، رشد تربیت و بهبود معیشت نامگذاری نموده است.

د کوچیانو مسله او د مطبوعاتو ...

کولای شي. د هېواد ډېری رسنیو ته مې په دې اړه غوږ نیولی و، خو له کتنیو او اورېدنیو څخه راته چاپې ډېرې په زړه پورې وې، له دې ډلې څخه یوه یې هم د (سروش ملت) په نامه یوه ورځپاڼه ده، چې د ۱۳۸۹ کال دوشنبې د ورځې د غوايي د میاشتې پر ۲۷ نېټه په ګڼه کې یې یو سرخط داسې کښلی وو (حکومت افغانستان و جامعه جهاني باید هرچه عاجل جلو هجوم کوچي ها را بیگیرد) له لیکنې څخه وروسته مې د محقق یو ډېر چورتي انځور ولید چې د ده له انځور څخه پوه شوم، چې دا خو نو دې ښاغلي فرمایلي دي، د لیکنې پر لوستلو مې داسې پیل وکړ (گزارش ها از مناطق بهسود حاکی از آن است که گروه هایی مسلح بنام کوچی ها شنبه شب بر مناطق دایمیرداد و تیزک حمله نمودند.....) خدای شته داسې یو قسم چورتي غوندې شوم چې (گروهایی بنام کوچي) دا به کوم نوی قوم وي او د دې هېواد به نه وي، خو خیر په هر حال له دې څخه وروسته مې یو لوی نوم ولید چې داسې لیکل شوی وو (استاد حاجي محمد محقق رییس دینی، فرهنگی، معارف، وتحصیلات عالی مجلس نماینده گان و رهبر حزب وحدت مردم افغانستان)، حیران شوم چې ښاغلی محقق له دومره لوی نامه سره ولې د دواړو قومونو لپاره خپله خوله نه خلاصوي، ځکه هسې هم افغانستان د ټولو افغانانو گډ کور دی او ټول پکې حق لري او بیا یو سیاسي مشر د دې په ځای چې د یو قوم لپاره سیاست وکړي، ښه به داوي چې د ټول ملت لپاره سیاست وکړي. دی د دې ترڅنگ چې د دومره لوی نامه څښتن و، د (حزب وحدت مردم افغانستان) د گوند مشر دی (مردم افغانستان) چې د دغه نامه یادول د داسې یو کس او د داسې یو کس له گوند سره واقعا د خندا وړ وي. ځکه دی یوازې د بهسودو د (مردم افغانستان) رهبر دی او بس، ځکه په همدې ورځپاڼه کې (بنام کوچی ها) چې د دوی شتون په هغه سیمه کې خو لا څه کوي، چې د دوی له نامه سره نا شنا یې ښي، اوس وگورئ چې څوک افراط کوي او څوک د رحم او مرحمت وړ دي او بله خبره چې ډېره د یادونې وړ او په زړه پورې ده هغه داده چې د (راه نو) په نامه یوې پارلماني ډلې چې مشري یې احمد بهزاد کوي، د کوچیانو دا کړنه چې د دوی په وینا یې د دایمیرداد په ولسوالۍ کې د هزاره گانو پر کورونو برید کړی، وغندله او یاد شوی عمل یې له مخکې څخه پلان شوی یو قومي عمل وباله او حتا په دې کې یې دولت په لاس لرلو تورن کړ او گوتځنډنه یې وکړه، چې که چېرې یاده شوې مسله حل نه شي، نو دوی به ټاکنې او د سولې جرگه هم تحریم کړي. خو زما په اند تر ټولو وړاندې خو دوی د تحریمولو وړ دي، ځکه چې دوی د دې په ځای چې د دې دردلي افغان ولس په زړونو کې مینه را پیدا کړي، کرکه را پیدا کوي او په یو او بل نامه یې سره لړې کوي. له دې سره سره چې زموږ ډارن او یو اړخیزه دولت لا وړاندې وویل، چې سیمې ته یې پلاوی استولی دی، خو بیا هم دوی ته د حکومت خبره د توتو خوراک معلوم شو او یو خل بیایې خپلو شومو او ناسمو سیاسي موخوته د دې زمینه برابره کړه، چې غاښ او اوری سره جدا کړي. له دې سره سره چې کوچیان او هزاره گان دواړه قومونه به اخر هم سره جوړ شي او یوې پریکړې ته به سره ورسېږي، خو همدا ډلې او ټپلې یې دې ته پرېږدي چې سره یوشي؟! حتا د وخت حکومتونه یې په دې تورن کړل چې که چېرې کوچیان د دې سیمې قباله هم ولري او د وخت حکومت دوی ته ورکړي هم وي، دا یوه غیر عادلانه وېشنه ده. له دې سره سره چې د وخت حکومت او د وخت وزیرانو ډېر قومونه همداسې سره ووېشل، ډېر هزاره وروڼه یې له بامیانو څخه هلمند او نورو ولایتونو ته واستول، ترڅو یاد شوي قومونه له دې ځای څخه په بل کوم ځای کې اباد شي، چې ښه بېلگه یې هم د هلمند ولایت ده، چې د دغه ولایت له یوې مکملې ولسوالۍ څخه د هزاره وروڼو یو وکیل ولسي جرگې ته راغلی دی، ایا چا د هلمند له هزاره گانو د دې پوښتنه کړې ده، چې ایا د وخت د حکومت دا پریکړه سمه وه او که ناسمه او که چېرې اوس د هلمند هزاره گان دې ته اړایستل شي، چې له هلمند څخه ووځي او د وخت حکومت گرم وبلل شي، پایله به یې څه وي!؟ له دې څخه دا ښه جوتېږي چې د مخکنیو او اوسنیو دولتونو ټولې پرېکړې د دې هېواد او دې ملت لپاره دي او بس. خو اوس راځو اخبارونو، ورځپانو او راډیوگانو او ټلویزونو ته، که چېرې موپام کړی وي، هر هغه څه چې د دغه هېواد د هر وگړي پر ضد وي او هرڅوک د دې ملاتړ کوي، دا تل مردود او رد شوي دي، پوښتنه دلته را ولاړېږي چې دا سیاسي ښاغلي ولې د افغانستان د هر وگړي او هر قوم لپاره کنفرانس نه نیسي، چې یوازې داسې سیاسي موضوعگانو کې خانونه گرموي او کوښښ کوي، چې له دې لارې څه ناڅه لاسته راوړي. د (راه نو) پارلماني ډله د دې لپاره چې په دې اړه یې غبرگون وښود، ټاکنې او د سولې جرگه تحریموي، ولې په کندوز کې د نجونو مسمول نه محکوموي، ولې د بهرنیانو بمباري او د ایران په هېواد کې د افغانانو پر وژل کېدو او اعدامېدو باندې کنفرانس نه جوړوي او له دولت څخه د دې لپاره د جدي هڅو غوښتنه نه کوي؟ دا خو کورنی مسله ده، کېدای شي کوچیان او هزاره گان د رېمگرې ته سره کېني او یوې روغې جوړې ته سره ورسېږي. زما پوښتنه له رسنیو څخه داده، چې د دوی لوستونکي یوازې کوچیان او یا یوازې هزاره گان نه دي، بلکې ټول افغانان د دې لوستونکي دي او ټول افغانان یې لولي. زه دا ښهٔ نه بولم چې د ملي یووالي لپاره د ځینو کار کوونکو رسنیو نومونه واخلم، خو دا ټولې ملت ته معلوم دي، چې څوک یې رهبري کوي او څوک د دغه هېواد د ملي منافعو لپاره کار کوي. د دې پر ځای چې یو سیاسي مشر، یوه رسنۍ او یا یو بل څوک د دې لپاره چې د یو قوم لپاره کار وکړي ښه به داوي، چې د ملي منافعو او ملي خبرو لپاره کار وکړي. د دې پر ځای چې افغانان بدو ته وهڅول شي، ښه به داوي چې ښه لوري ته وهڅول شي. د ټوپک پر ځای د قلم مینه. د جگړې پر ځای د یو ځای اوسېدو مینه او د دعوو پر ځای د جرگو مینه ورکې وهڅول شي. د رسنیو سیاسي مشرانو او د نورو د پالونکو دا هڅې او دا کړنې به تر ډېره د تاریخ په پاڼو کې پاتې وي او تاریخ به پرې قضاوت کوي او بیا به څوک د دې جرات ونه لري، چې ووایي دا ما کړي دي. ځکه دا قوم او دا ملت که تن نه شو، سبا او بله ورځ را ویښېدونکی دی او انشاالله خپل دوستان او دښمنان به ډېر ښه درک کړي. ځینې رسنۍ داسې کوي، ځینې یې پردی فرهنگ راوړي او ځینې یې..... خو د شکر ځای دی، چې ځینې افغانپاله رسنۍ هم شته، چې د دغه هېواد لپاره کار کوي او نوم به یې ښه جوت وي.

محمد الله ارین احمدزی

نه چېرې تللی، نه ...

حکومت له گاونډیو هېوادونو، په تېره بیا پاکستان او ایران سره هم گڼې ستونزې لري، خو دا ستونزې هم د افغان حکومت لپاره کومه خاصه ننگونه نه پیدا کوي.

افغان حکومت چې ستونزه لري او ډېره مهمه ستونزه لري، هغه له ولس سره ده. تر یو کال ډېر وخت وشو چې حکومت او په ټوله کې دولت پر داسې بې مفهومه سیاسي لوبو بوخت دی، چې د خلکو ژوند ته اصلاً متوجه هم نه دی. د حکومت او خلکو تر منځ واټن هره ورځ ډېرېږي. په همدې تېرو څو ورځو کې په لسگونو افغانان د ترهگرو عملیاتو و زمولل، خو د هېواد پر عامه افکارو یې دومره اغېز نه درلود، لکه د سرخرود عملیاتو چې درلود. اداري فساد د حکومت له ژمنو سره سره، یا شاید د حکومت د ژمنو له برکته، تر پخوا لا ډېر محسوس دی. د حکومت اداره، چې په خپل ذات کې هم بېکاره او ناوړه وه. د حکومت د جوړولو د ډرامې په اوږدېدو لا بېکاره او ناوړه شوې ده. پرمختیایي کارونه که په ټپه نه دي ولاړ، بیا هم د خلکو قناعت نه شي حاصلولای. تر ټولو بده خبره، هغه د بې تفاوتۍ احساس دی، چې هره ورځ د افغانستان د اسلامي دولت د درې گونو قواوو د سرنوشت پر وړاندې د خلکو په منځ کې لیدل کېږي.

ښاغلی کرزی امریکا ته لاړ. شاید ځینې سیاسي شننونکي، هم په کورنیو او هم په بهرنیو مطبوعاتو کې، دغه سفر بریالی وبولي، خو د هېواد اصلي ستونزې لا پر خبل ځای دي. د کرزي د حکومت تر ټولو ستره ناکامي به دا نه وي، چې وسلوال مخالفان یې څو ولسوالۍ، لا څو ولایتونه، په کامله توگه تر کنټرول لاندې راولي. د حکومت تر ټولو ستره ناکامي به دا وي، چې ولس یې د لوړو ژورو په وړاندې بېخي بې تفاوته شي. ځکه چې دغه حالت به د دیموکراسۍ د اصولو هېر بدل او د یوې عملي دیکتاتورۍ د ایجاد فضا رامنځته کړي.

د اروزگان ولایت د چنارتو ولسوالۍ لاره له ...

چې د دوی په ولسوالۍ کې د ملي پیوستون له خوا شوراگانې جوړې شوې دي، خو په عمل کې هېڅ کار نه کوي. نوموړي زیاته کړه: ((د کلیو پراختیا ریاست وایي چې موږ تاسو ته پروژې درکوو، خو د پروژو د پلي کولو لپاره توکي له کومې لارې وړئ؟)) د اروزگان سرپرست والي دغو قومي مشرانو ته ژمنه ورکړه، چې د دوی ستونزې به په لومړي فُرصت کې هواروي. هغه زیاته کړه چې د چنارتو ولسوالۍ د لارې د خلاصېدو لپاره به ډېر ژر له نظامي چارواکو سره خبرې وکړي.

طرح ها برای بیرون رفت از معضلهٔ ...

جنوب تمام بلوچستان تا بحرهند و جانب شرق تا دهلی پایتخت امروزی هند می رسید.

ـ با رویکار آمدن شاه محمود ایجاد نفاق میان برادران از یک طرف و رقابت میان اقوام سدوزی و بارکزی از جانب دیگر، زمینه را برای پیشروی روس ها و انگلیس ها به حیث دو قدرت بزرگ آن وقت مساعد ساخت. بالاخره این دو امپراتوری برای تسلط به افغانستان به چشم حرص و طمع نگریسته، به رقابت پرداختند که در نتیجه، قسمت های زیادی از خاک این سرزمین در شرق و جنوب از پیکر آن جدا گردید.

ـ از تثبیت سرحدات فعلی افغانستان روی نقشهٔ جهان اضافه تر از یک قرن می گذرد. قابل یاد آوری است که در تعیین سرحدات افغانستان، دست روس و بریتانیا به صورت مستقیم در کار بود.

ـ مداخلهٔ قدرت های نامبرده در تثبیت سرحدات، همگی به خاطر اغراض استعماری صورت می گرفت، تا میان دو کشور همسایه ایران و پاکستان، مشکلات پیدا نمایند که هنوز این میراث روس و انگلیس باقی مانده، یک منطقه را طوری به دو قسمت تقسیم می کردند که یک قسمت یک قوم و ملت را به یک کشور و قسمت دیگر آن را به کشور دیگر، مربوط می ساختند.

ـ طورمختصر و فشرده باید گفت که نظر به ملاحظهٔ (نقشهٔ سیاسی و معلوماتی افغانستان) که از طرف ادارهٔ عمومی جیولوژی و کارتوگرافی در سال ۱۳۸۶ چاپ گردیده است، سرحدات مشترک افغانستان با کشورهای همسایه، طور ذیل نشان داده شده است:

۱ـ خط امیرشیرعلی خان به طول ۱۸۰۰ کیلومتر در سال۱۸۷۳م تعیین و تثبیت شده است.
۲ـ خط رجوی به طول ۵۶۰ کیلومتر در سال ۱۸۸۷م، تعیین و تثبیت شده است.
۳ـ خط دیورند به طول ۲۳۱۰ کیلومتر در سال ۱۸۹۳م، تعیین و تثبیت شده است.
۴ـ خط پامیر به طول ۹۰ کیلومتر در سال ۱۸۹۵م، تعیین و تثبیت شده است.
۵ـ خط مکمهان به طول ۴۷۵ کیلومتر در سال (۱۹۰۲ـ۱۹۰۵م)، تعیین و تثبیت شده است.
۶ـ خط فخری به طول ۴۵۰ کیلومتر در سال ۱۹۳۵م، تعیین و تثبیت شده است.
۷ـ سرحد شمال شرقی به طول ۹۶ کیلومتر در سال ۱۹۶۲م، تعیین و تثبیت شده است.
۸- سرحد جمو و کشمیر به طول ۱۰۲ کیلومتر تعیین و تثبیت شده است.

در مجموع افغانستان، ۵۸۸۳ کیلومتر سرحد مشترک با کشورهای همسایه دارد.

ـ که از آن جمله، سرحد مشترک با تاجکستان، ۱۳۶۰/۷ کیلومتر، با ازبکستان، ۱۴۵/۳ کیلومتر، با ترکمنستان ۸۷۴ کیلومتر، با ایران، ۹۲۵ کیلومتر، با پاکستان، ۲۳۱۰ کیلومتر، با چین ۹۶ کیلومتر و سرحد مشترک با جمو و کشمیر، ۱۰۲ کیلومتراست.

- ولایات افغانستان که با پاکستان (خط دیورند) سرحد مشترک بین المللی دارند، قرارذیل است:

۱- ولایت لوگر، ۴/۷۵ کیلومتر. ۲- ولایت پکتیا ۴۲ کیلومتر. ۳- ولایت پکتیکا ۳۱۲ کیلومتر. ۴ - ولایت خوست ۱۷۹ کیلومتر. ۵- ولایت ننگرهار ۲۰۲/۵کیلومتر. ۶- ولایت کنر ۱۶۱ کیلومتر. ۷- ولایت نورستان ۹۸/۲۵ کیلومتر. ۸- ولایت بدخشان ۳۰۹/۵ کیلومتر. ۹- ولایت قندهار ۵۶۴ کیلومتر. ۱۰- ولایت هلمند ۲۰۹/۲۵ کیلومتر. ۱۱- ولایت زابل ۴۳/۷۵ کیلومتر. ۱۲- ولایت نیمروز ۱۸۴ کیلومتر.

- ولایات افغانستان که با دیگر کشورها سرحد مشترک بین المللی دارند، قرارذیل است:

۱- ولایت بلخ -با تاجکستان ۵۲/۷۵ کیلومتر با ازبکستان ۱۴۵/۳ کیلومتر با ترکمنستان ۱۹/۵ کیلومتر.
۲- ولایت جوزجان- با ترکمنستان ۱۲/۵ کیلومتر.
۳- ولایت فاریاب- با ترکمنستان ۲۷۵/۷۵ کیلومتر.
۴- ولایت بادغیس -با ترکمنستان ۲۱۹ کیلومتر.
۵- ولایت هرات- با ترکمنستان ۲۳۷/۲۵ کیلومتر با ایران ۳۵۴ کیلومتر.
۶- ولایت فراه -با ایران۳۳۴/۵ کیلومتر.
۷- ولایت نیمروز- با خط دیورند، ۱۸۴ کیلومتر با ایران ۲۳۶/۵ کیلومتر.
۸- ولایت بدخشان -با خط دیورند ۳۰۹/۵ کیلومتر با جمو و کشمیر ۱۰۲ کیلومتر. با چین ۹۶ کیلومتر با تاجکستان ۹۴۰/۵ کیلومتر.
۹- ولایت تخار- با تاجکستان ۱۸۲/۵ کیلومتر.
۱۰- ولایت کندز- با تاجکستان،۱۸۴/۹۵ کیلومتر.

ادامه دارد

ادامهٔ جنگ در بغلان و مشکل بیجا ...

اما قوماندان قول اردوی ۲۰۹ شاهین در شمال می گوید که آنها می کوشند، عملیات به زودی خاتمه یابد و زمینهٔ برگشت بیجا شده گان به مناطق شان فراهم گردد. او خاطر نشان ساخت که فعلا جنگ در ساحات احمدزی، وردک ها و جوی نو دندغوری جریان دارد و سایر مناطق از وجود مخالفان مسلح دولت، پاکسازی شده است.

ایجاد دموکراسی در افغانستان مطابق معیارهای غرب ...

به گونه‌یی که این کشور دیگر به وجود آورندهٔ خطر تروریزم بین‌المللی نباشد. به ویژه در برخی مناطق ناآرام این تهدیدات باید دفع شود. گوتنبرگ افزود که باید رویایی را که سالهاست در سر داشته‌ایم و این رویا ایجاد دموکراسی طبق الگوی غرب است، کنار بگذاریم. وزیر دفاع آلمان تاکید کرد که وقتی ۷۰ درصد مردم آلمان با حضور نیروها در افغانستان مخالف هستند. این مسأله باید انگیزه و محرکی باشد، تا در خصوص اهمیت این حضور به طرز شفاف‌تری بحث شود.

تلاش زنان به سهمگیری در انتخابات و ناامنی های روزافزون

سرنوشت زنان به حیث یک جماعت جنسیتی در قدم اول، وابسته به تلاش های خود شان در جهت تأمین برابری حقوقی آنها در جامعه می باشد؛ زنان افغان در تلاش اند که در عرصه‌های سیاسی و اجتماعی سهم گرفته و نقش خود را ایفاء کنند؛ اما آن‌ها می‌گویند که با مشکلات و چالش‌های گوناگون در همه عرصه‌ها، رو به رو هستند.

مجمع "حرکت خواهران افغان"، نهادی که در تلاش گسترش حضور زنان در عرصه‌های اجتماعی- سیاسی است، در نشست دیروز در کابل، خواهان تشویق زنان به مشارکت در انتخابات شد.

به گفتهٔ مجمع "حرکت خواهران افغان"، تلاش شان برای این است که "به یک بحث و نتیجهٔ قوی برسیم، تا که بتوانیم، از کاندیداهای خود (حمایت کنیم) و خواهران خود را تشویق بکنیم که اشتراک گسترده در انتخابات داشته باشند".

در انتخابات پارلمانی، حدود ۱۶ درصد نامزدان را زنان تشکیل می‌دهند. بر اساس لیست مقدماتی نامزدانی که از سوی کمیسیون مستقل انتخابات منتشر شده، از مجموع ۲۴۴۴ نامزد، ۳۸۶ تن آن‌ها را زنان تشکیل می‌دهند. این لیست بعد از رسیده گی به شکایت‌های انتخاباتی، ممکن است، تغییر یابد.

براساس قانون اساسی کشور، حد اقل سهم دو زن از هر ولایت در ولسی جرگه، حتمی است. یعنی حدود یک چهارم نماینده گان ولسی جرگه را باید زنان تشکیل دهند.

با آنکه بعد از شکست طالبان، در ابتدا تلاش بر این بود که با درنظرگیری تبعیض مثبت، به زنان سهم و فرصت‌های بیشتری در عرصه‌های اجتماعی و سیاسی سهم داده شود، اما با گذشت زمان، هرچند تلاش‌های زنان به صورت دوامدار ادامه دارد، ولی مشکلات فراروی زنان نیز بیشتر می‌گردد.

با همه تهدیدهای امنیتی یی که تا اکنون وجود داشته است، شمار قابل توجهی زنان در انتخابات های گذشته، شرکت کرده اند.

مسوولان مجمع "حرکت خواهران افغان" می‌گویند که ۲۷ تن از اعضای مجمع توانسته اند، در انتخابات سال گذشتهٔ شورای ولایتی پیروز گردند و اکنون در شوراهای ولایتی، مصروف کار هستند.

مسوولان این مجمع می‌گویند که در انتخابات پارلمانی پیشرو نیز، ۳۶ نامزد دارند و تلاش می‌کنند که نامزدان شان موفق به کسب رای مردم گردند. اما زنان می‌گویند که ناامنی، عمده‌ترین چالش فراروی زنان خصوصا در انتخابات است و زنان نمی‌توانند، آزادانه برای انتخابات کمپاین کنند.

هواعلم نورستانی، نمایندهٔ برحال نورستان در ولسی جرگه و نامزد انتخابات پارلمانی پیشرو می‌گوید:" این یک حقیقت مسلم است که در سراسر افغانستان، خانم‌ها مشکلات امنیتی خود را خواهند داشت، مشکلات زیاد شان در قسمت ناامنی‌ها خواهد بود. در کنار آن، خانم‌ها اقتصاد قوی یی ندارند".

حمیرا حقمل، رییس مجمع "حرکت خواهران افغان" می‌گوید:" دولت به حدی نیست که بتواند، تمام مشکلات و نیازمندی‌های ما را پاسخگو باشد. از همین خاطر است که امروز می‌بینیم که در افغانستان، در تمام ولایات بزرگ افغانستان، در شهرهای بزرگ افغانستان، حتا در مرکز افغانستان در کابل، ما بسیاری ولسوالی‌ها را می‌بنیم که در آنجا سهولت های لازم جهت تعلیم و تربیهٔ دختران، وجود ندارد".

در بسیاری مناطق ناامن در جنوب کشور، مکتب‌های دخترانه بسته است و حتا در برخی ولسوالی‌ها با آنکه مکتب‌های دخترانه فعال اند، ترس از ناامنی، تمایل خانواده‌ها به فرستادن دختران شان به مکتب را کمرنگ کرده است. وقتی مکتب دختران با دشواری مواجه باشد، کمپاین‌های انتخاباتی زنان، با مشکلات به مراتب بیشتر روبه رو است.

برای تبدیل حضور نمادین زنان در مجامع سرنوشت ساز ملی و بین المللی همبستگی خود آنها امرضروری است.

در چند سال گذشته، قتل زنان فعال، سوختاندن مکتب‌های دخترانه و تیزاب پاشی به صورت دختران دانش آموز، نمونه‌های بارز خشونت معمول در قبال دختران و زنان پنداشته می‌شد. اما در این اواخر، مسموم ساختن دانش آموزان دختر در مکتب‌ها، ناامنی روانی گسترده‌یی را حتا در کابل، ایجاد کرده است.

فریده حمیدی، از ولایت نیمروز که در انتخابات پارلمانی خود را نامزد کرده است، می‌گوید ناامنی بیشتر متوجه دختران و زنان کشور است.

خانم حمیدی در مورد سمپاشی‌هایی که در مکتب‌های دخترانه صورت می‌گیرد، می‌گوید: "اکثرا کوشش می‌کنند که طبقهٔ اناث و دختران را به مکتب نمانند. به خاطر اینکه از این طور حوادث، ما از طبقهٔ اناث، از دختران می‌ترسیم، نسبت به ذکور".

فریده حمیدی از دولت می‌خواهد که امنیت زنان و دختران را تأمین کند: "امیدوار هستم که دولت مرکزی، به همکاری وزارت دفاع، به همکاری وزارت داخله، به همکاری ریاست امنیت، تلاش داشته باشند، تا جلو حوادث وحشتناکی که باعث بدنامی تمام معارف می‌شود، را بگیرند".

هرچند زنان در حاشیه پنداشته می‌شوند و در تصمیم‌گیری‌ها سهم بارزی ندارند، اما در مورد مسایل مهم ملی، زنان صدای خود را بلند کرده اند. تاکنون، به صورت دوامدار و گسترده، زنان فعال نگرانی خود را در مورد مصالحه با طالبان، ابراز داشته اند، تا مبادا در مصالحه ص۳

چالش های فراروی دولت ائتلافی در بریتانیا

پس از روشن شدن تکلیف انتخابات مجلس عوام در بریتانیا که در آن، حزب محافظه کار ۲۵۲ کرسی، حزب کارگر ۱۹۳ کرسی و حزب لیبرال دموکرات ۳۹ کرسی و سایر احزاب مستقل دیگر ۲۵ کرسی را از آن خود کردند، گوردون براون از رهبری حزب کارگر و صدارت بریتانیا کناره گیری کرد و راه برای "دیوید کامرون" رهبر حزب محافظه کار، برای تشکیل دولت ایتلافی با حزب لیبرال دموکرات هموار شد و با ورود دیوید کامرون به دفتر صدارت، حاکیمت ۱۳ سالهٔ حزب کارگر که در آخرین روزهای تصدی خود، به شدت از ناحیهٔ افکار عمومی بریتانیا تحت فشار بود، سرانجام پایان یافت.

به این ترتیب، پس از گذشت هفت دهه از تاریخ انتخابات پارلمان بریتانیا، نخستین کابینهٔ ایتلافی از سوی احزاب محافظه کار و لیبرال دموکرات رویکار خواهد آمد و این در حالی است که تفاوت دیدگاه دو حزب، در حوزه های مختلف سیاست داخلی و خارجی، از هم اکنون شکننده بودن ایتلاف دولتی این کشور را قابل پیش بینی کرده است.

کامرون که با شعار دعوت برای پیوستن به دولت، رقابت های انتخاباتی را آغاز کرد، اکنون با خارج کردن انحصار قدرت از دست حزب کارگر، در مسیری نا هموار برای بازگرداندن اعتماد مردم به اخلاق و نظام سیاسی بریتانیا قرار گرفته است و این در حالی است که وضعیت پارلمان معلق یا بدون اکثریت کافی، موجب خواهد شد، تا ماموریت دولت ایتلافی در پیشبرد برنامه های اصلاحی، با چالش های بیشتری مواجه گردد.

در کنار مشکل بزرگ تلاش برای باز گرداندن اعتماد عمومی به نظام سیاسی این کشور که اخیرا از سوی مردم و همچنین حزب لیبرال دموکرات به عنوان شریک ایتلافی کامرون به چالش کشیده شده است، دوحزب محافظه کار و لیبرال دموکرات، میراث دار ۲۰۰ میلیارد یورو کسری بودجه، بدهی عمومی بالای این کشور و بیکاری فزاینده به ص۳

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادہ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمد"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنک، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com